
# مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
چهارشنبه د ۱۳۹۸ د لیندۍ ۲۰مه | د ۲۰۱۹ د ډسمبر ۱۱مه | ۴۷۸یمه ګڼه


## کتاب

۴ مخ

### د جذب ځواک




(د جذب ځواک) کتاب امریکایي مشهور ویناوال براین ټریسي او ران اړډن لیکلی. پښتو ژباړه يې محب الله عمري کړې ده چې همدا پښتو بڼه يې په ۱۲۲ مخونو کې راټوله شوې ده.

# د سولې خبرې او پر اوربند اختلافات؛

## امریکا عمومي؛ خو طالبان یوازې له امریکایي ځواکونو سره اوربند غواړي



### کولمبیا له افغانستان سره د کانونو په استخراج کې همکاري کوي



د کولمبیا هېواد د کانونو ملي اداره د افغانستان د کانونو له وزارت سره په تخنیکي، ظرفیت جوړونې او د کانونو استخراج په برخو کې مرستې کوي. د کانونو وزارت ویاند عبدالقدیر مطفي پژواک ته ویلي چې د وزارت د پالیسۍ او برنامې مرستیال ولي الله ځدران د یوه پلاوي په مشرۍ، چې په کې ډېری تخنیکي مسوولین شامل دي، دا مهال په کولمبیا کې دی. هغه زیاته کړې چې دغه لوړپوړي پلاوي د کولمبیا هېواد د کانونو ملي ادارې له چارواکو سره په بېلابېلو برخو کې خبرې کړې دي. د نوموړي په خبره، له دغه سفر موخه د افغانستان د استخراجي سکټور د مدیریت لپاره د ظرفیتونو لوړول او په استخراجي صنایعو سکټور کې د بنسټیز بدلون لپاره د یاد هېواد له تجربو ګټه اخیستل دي. مطفي ویلي: «موږ به په تخنیکي او ظرفیتي برخو کې له کولمبیا هېواد سره په ګډه کار وکړو، څو د افغانستان صنایع استخراجي سکټور لپاره د افغان حکومت تګلاره په سمه توګه عملي شي».

### د افغان جګړې په تړاو امریکایي غوغا، لاملونه او پایلې یې
۲ مخ

### د سوداګرۍ په نړیوال سازمان کې د افغانستان د غړیتوب حقوقي ارزونه
۲ مخ

### د پولې سیاست موخې
۵ مخ

## امریکایي رسنۍ: په افغانستان کې روانه بې مانا جګړه باید پای ته ورسېږي

د لاس انجلس په نامه یوې امریکایي ورځپاڼې د افغانستان په اړه په خپره کړه تازه مقاله کې ویلي، چې په دغه هېواد کې روانه بې مانا جګړه باید نوره پای ته ورسول شي. د مقالې د لیکوال په خبره، امریکا په افغانستان کې له تېرو اتلسو کلونو راهیسې د ژوند، پیسو او وخت په ضایع کولو سره هېڅ هم لاسته نه دي راوړي. سرچینې ویلي، په افغانستان کې د روانې جګړې په اړه له شویو مرکو دا څرګندېږي چې په دغه هېواد کې روانه جګړه خورا بې ګټې او بې موخې ده. نوموړي د سیګار له لوري د افغان جګړې په اړه د پلټنو د شپږ سوه مرکو په استناد ویلي، د امریکا په موجودیت کې اداري فساد هم ژورې ریښې غځولې دي او ډېر نور بشري حقونه تر پښو لاندې شوي او لا هم دغه لړۍ روانه ده. په ورته وخت کې لیکوال د امریکا د سمندري ځواکونو د یوه غړي جیفري ایګرز خندوونکې خبره را اخیستې چې ویلي یې وو، اسامه بن لادن به په اوبو کې ډېر خندلي وي چې امریکایانو په څومره احمقانه ډول د ده د وژلو لپاره میلیاردونه ډالر مصرف کړل. د افغان جګړې په تړاو دا څرګندونې داسې مهال دي چې تازه ملګرو ملتونو په افغان پوځ کې د جنګېدونکو ماشومانو په تړاو هم اندېښنه ښودلې ده.

دوی ویلي چې لا هم افغان ماشومان او کم عمره ځوانان په پوځ کې ګومارل کېږي چې بیا د سختو جګړو لپاره لومړۍ کرښې ته استول کېږي.

### د ټاکنو د پایلو د اعلان ځنډ د خلکو د حقونو تر پښو لاندې کولو په مانا دی



۲ مخ

### در اثر پرتاب هاوان نیروهای خارجی در لوگر چهار کودک جان باختند



شماری از باشنده‌گان لوگر ادعا می کنند که در نتیجه پرتاب هاوان در قریه ده شیخ ولسوالی برکی برک این ولایت، چهار کودک جان باختند.

این باشنده‌گان که جسدهای این چهار کودک را در نزدیکی دفتر والی لوگر آورده بودند، گفتند که علت این حمله باید روشن ساخته شود و عاملین اش مجازات شود.

برید جنرال عبدالمتین حسن خیل، یک قوماندان ارتش در لوگر گفت که ممکن است این حمله از سوی نیروهای خارجی صورت گرفته باشد.

به گفتهٔ او، نیروهای خارجی در نزدیکی قریه ده شیخ یک پایگاه دارند.

در عین حال مأموریت حمایت قاطع در یک خبرنامه می گوید که آنان از ادعاهای تلفات غیرنظامیان در لوگر آگاه اند و در این باره تحقیق میکند. در این خبرنامه آمده است: «برای دانستن وضعیت و گرفتن جزییات بیشتر، با همکاران محلی خود کار می کنیم». با این حال محمد هاشم باشنده ولسوالی برکی برک، گفته است: «امروز(دیروز) این حادثه رُخ داد، روز دیگر حادثه دیگر... این باید جلوگیری شود».

یک باشنده دیگر لوگر نیز در این باره گفته است: «حمله از سوی کمپاین (پایگاه نیروهای خارجی) انجام شده است. در این منطقه طالبان نیست و نیروهای امنیتی پوسته دارند».

این در حالی است که قبلاً هم در چنین رویداد از سوی نیروهای خارجی و افغان از اثر پرتاب راکت ها به افراد ملکی تلفات سنگین رسیده است.


if You Can Think It, We Can ink it.
غوره کیفیت او چټک خدمات
په وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL Printing Co.
وایګل چاپ
+93 (0) 77 55 22 677, +93 (0) 782 98 9696
+93 (0) 202512626
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co@gmail.com

دریـځ

## د افغان جګړې په تړاو امریکایي غوغا، لاملونه او پایلې یې

د افغـان جګـړې پـه تړاو په امریکا کـې نظر ورځ تـر بلـې منفـي کېـږي. امریکایي رسنۍ نږدې هـره ورځ پـه افغانسـتان کـې د امریکـا د ماتې، زیاتـو لګښـتونو، مـرګ ژوبلـې او بـې پایلـې جګـړې پـه اړه مطالـب خپروي. تازه واشـنګټن پوسـټ افشـا کـړې چـې سـپیني مانـۍ بیـا بیا امریکایـي ولـس تـه د افغـان جګـړې پـه تـړاو ناسـم معلومـات ورکـړي. پـه دې اړه دوه زره پاڼـې اسـناد هـم د واشـنګټن پوسـټ لاس تـه ورغلـي چـې امریکایي چارواکـي یـې لا زیـات د افغانسـتان پـه تـړاو تر فشـار لاندې راوسـتلي دي. امریکایـي رسـنۍ بیـا بیـا دا وایـي چـې امریـکا پـه افغانسـتان کـې تـر یـو ټریلیـون ډالـر لګولـي، ۲۳۰۰ سرتیـري یـې وژل شـوي، لسـګونه زره ټپیـان دي او ځینـې یـې پـر روانـي ناروغیـو اختـه دي، خـو د دې هـر څـه پـه بـدل کـې پـه افغانسـتان کـې حالت نـه یوازې د ښـه کېـدو لـور تـه نـه ځـي، بلکـې طالبـان پیـاوړي شـوي، لا زیاتـه ځمکـه یـې لانـدې کـړې ده، د امریـکا پـه ملاتـړ چلېدونکـې حکومـت کمزوري شـوی، فسـاد زیـات شـوی، بشـري حقونـه تـر پښـو لانـدې شـوي او هېـڅ داسـې څـه نشـته چـې امریـکا یـې نـړۍ او امریکایـي ولـس تـه د یـوې لاسـته راوړنـې پـه توګـه وړانـدې کـړي.

اوس له دغه حالت سره څه بدلېږي؟

پـه امریکا کـې د افغان جګړې او په افغانسـتان کـې د امریـکا پـر ښـکېلتیا مطبوعـاتي غوغا او وروسـتی فشـار لـه دوو اړخونو ښـکاري. لومړی دا چـې امریکایـي ولـس تـه د افغـان جګـړې پـه تـړاو ډېـر څـه روښـانه شـوي. دوی اوس پوهېـږي چـې هلتـه هـر څـه ناسـم روان دي، امریکایـي ځواکونـه خلـک وژنـي او جنایتونـه کـوي. امریـکا د فسـاد او ناقانونـۍ ملاتـړ کـوي. د دوی لـه حضـور سره پـه افغانسـتان کـې نشـه یـي توکـي، ترهګـري او جګـړې زیاتـې شـوې او امریـکا هـم پـه دې هېـواد کـې لـه خنډونو سره مخ ده. لـه همـدې املـه باید پـه افغانسـتان کـې نظامـي حضـور او دغـه ډول ښـکېلتیا ختمـه کـړي. امریکایـي ولـس د همـدې لپـاره فشـار راوړي، مطبوعـاتي غوغـا جـوړه ده او دوی خپل حکومـت اړ باسـي چـې بدلـون راولي. دویـم دا چـې امریکایـي تصمیم نیوونکـي او اصلي کـړۍ غـواړي پـه افغانسـتان کـې خپلـه تګلاره بدلـه کـړي او د همـدې لپـاره دوی مطبوعـاتي فشـار او غوغـا تـه اړتیـا لـري. د دې لپـاره چـې دوی بدلـون راولي، نـو ځکـه اړتیـا لـري چـې دا هـر څـه د امریکایـي ولـس د غوښـتنې پـر اسـاس وښیي.

پـه هر حـال، څـه چـې معلومېـږي، هغـه دا دي چـې امریـکا پـه افغانسـتان کـې خپلـه تګلاره بدلـوي. لـه طالبانـو سره د جوړجـاړي، د خپلـو ځواکونـو د ایسـتلو او یـا هـم کمولـو او نـورو بدلونونـو لـه لارې غـواړي پـه افغانسـتان کـې خپلـه تګلاره بدلـه کـړي. دا چـې دا بدلـون به څـه ډول وي او امریکا بـه خپلـې ګټـې څنګـه خونـدي کـوي، دا جـلا بحـث دی، خـو اوس پـکار ده چـې افغانـان د دې تګلارې لـه بدلون سره یـو داسـې بدلـون تـه لاره هـواره کـړي، چـې دلتـه جګـړه ختمـه شي او سـوله راشي. د دې لپـاره لومړنـی کار دا دی چـې نـور بایـد لـه افغانونـو سره دښـمني، کرکـه او جګـړه چـې پـه هـر نـوم وي، ختمـه شي. هغـوی چـې لـه امریکا سره پـه دوسـتۍ کـې لـه خپلـو خلکو سره پـه دښـمنۍ کـې وو، دا حالت بایـد نـور ختـم کـړي او هغـوی چـې لـه امریکا او نـورو سره نوي لینونـه او اړیکـې جـوړوي، بایـد د خپـل ورور د وهلـو لپـاره یـې ونـه کاروي. همـدا وخـت دی چـې مـوږ تـرې ګټـه واخلـو او افغانسـتان تـه دایمـي سـوله را وګرځـوو.

# د سوداګرۍ په نړیوال سازمان کې د افغانستان د غړيتوب حقوقي ارزونه

لیکنه: اکرام الدین کامل

لومړۍ برخه:

**لنډیز**

افغانستان په ۲۰۱۵ ز کال کې د سوداګرۍ په نړیوال سازمان کې د غړیتوب په اخیستلو د نومورې سازمان ۱٦٤م غړی شو.

د سوداګرۍ نړیوال سازمان ته الحاق تر نورو سازمانونو توپیر لري. هېوادونه مکلف دي چې په دې سازمان کې د غړيتوب د تر لاسه کولو لپاره اوږده مذاکرات وکړي او د اصلي غړو په پرتله اضافه او سخت اصول قبول کړي. دغه اضافي اصول د هر هېواد د الحاق په پروتوکول کې ذکر شوي او د سازمان د هوکړه لیک بشپړوونکې برخې ګرځي. البته د الحاق د پروتوکول حقوقي وضعیت لا هم څرګند نه دی. مذاکرات عموماً دوه اړخیز، څو اړخیز او ډېر اړخیز کېږي. افغانستان له دې سازمان سره ۱۲ کلونه مذاکرات وکړل چې په دې لړ کې یې ډېر اضافي او سخت اصول هم پر ځان ومنل او هم یې ډېرې ژمنې وکړې چې د کاري ډلې په راپور کې یې په تفصیل سره یادونه شوې ده.

دا مقاله په عمده توګه درې پوښتنې ځوابوي: لومړۍ دا چې هېوادونه څه ډول سازمان ته الحاق کوي؟ دویم، د سوداګرۍ په نړیوال سازمان کې د غړيتوب له تر لاسه کولو سره افغانستان څه ډول حقوق او وجایب لري؟ دریم دا چې سازمان ته له الحاق سره افغانستان تر اوسه په خپلو قوانینو او پالیسیو کې کوم بدلونونه راوستي دي؟

کیلي: افغانستان، سوداګري، د نړیوال سوداګرۍ سازمان، په نړیوال سوداګرۍ سازمان کې الحاق

**سریزه**

له دویمې نړیوالې جګړې وروسته پر دې فکر کېده چې د «بریټن ووډز» سیسټم د دوو سازمانونو یانې نړیوال بانک (International Bank for Reconstruction and Development) او د پیسو نړیوال صندوق (International Monitory Fund) سره یوځای دریم داسې سازمان تأسیس کړي چې نړیوال تجارت او اقتصاد اداره کړي.

د نړیوال بانک او د پیسو نړیوال صندوق تر تأسیس وروسته، له پنځوسو زیاتو هېوادونو پر دې خبرې اترې پیل کړې، څو د ملګرو ملتونو د یوې ځانګړې او متخصصې ادارې په توګه د سوداګرۍ نړیوال سازمان (International Trade Organization) تأسیس کړي. خو دا مذاکرات د څو لاملونو له کبله بریالي نه شول. لومړی لامل یې دا و چې د سازمان د منشور په مسوده کې د نړیوالې سوداګرۍ د اصولو او سیسټم څخه ډېر لرې اصول ځای پر ځای شوي وو، چې دا بیا هېوادونو ته د منلو وړ نه وو. دویم اساسي لامل یې د امریکا د متحده ایالتونو د کانګرېس له خوا د دغه منشور عدم تایید و. که څه هم نورو هېوادونو له امریکا پرته دغه مذکرات پر مخ وړای شول، خو هغه مهال امریکا په نړۍ کې تر ټولو ځواکمن اقتصادي هېواد و، له دویمې نړیوالې جګړې څخه روغ رمټ وتی و او له همدې کبله هېڅ یو هېواد نه غوښتل چې له امریکا پرته په دغه سازمان کې غړيتوب واخلي.

دویمې نړیوالې جګړې د ډېری هېوادونو اقتصاد له پښو وغورځاوه، له همدې امله ۱۵ هېوادونو په دې موخه چې خپل اقتصاد یو ځل بیا پر خپلو پښو ودروي، د ۱۹۴۵ ز کال په ډسمبر کې د تعرفو د کمولو لپاره مذاکرات پیل کړل. دغو مذاکراتو نږدې دوه کلونه وخت ونیو او په پای کې ۲۳ هېوادونو په جنیوا کې د سوداګرۍ او تعرفو اړوند عمومي هوکړه لیک[٤] (General Agreement on Tariffs and Trade) یا ګاټ لاسلیک کړ. د ۱۹۴۷ ز کال ګاټ هوکړه لیک تر ۱۹۹۴ ز کال پورې دوام وکړ او وروسته یې ځای د سوداګرۍ نړیوال سازمان او د ۱۹۹۴ ز کال ګاټ ونیو.

له ۱۹۴۷ ز کال څخه تر ۱۹۹۴ ز کال پورې د ګاټ غړو څو ځله د تعرفو د کمولو او د سوداګرۍ اړوندو مسایلو په اړه خبرو اترو ته کېناستل. مثلاً، د کینډي په خبرو اترو کې چې د ۱۹٦۴-۱۹٦۷ ز کلونو تر منځ وشوې، د ګاټ غړو هېوادونو پکې د ډمپېنګ ضد پر هوکړې موافقه وکړه او د توکیو په مذاکراتو کې چې د ۱۹۷۳-۱۹۷۹ ز کلونو تر منځ وشول، په دې تړاو یې هڅې وکړې چې پر ځینو توکو (Goods) تعرفې نورې هم کمې کړي. د توکیو په خبرو اترو کې غړو هېوادونو د (Agreement on Implementation of the General Agreement on Tariffs and Trade) په نوم هوکړه لیک هم تصویب کړ. دغه هوکړه لیک د ډمپېنګ ضد مقررې (۱۹۷۹ Anti-Dumping Regulations) په نامه هم یادېږي.

وریسې د اوروګوای [د ځای نوم دی] خبرې اترې په ۱۹۸٦ ز کال کې پیل شوې. که څه هم دغو خبرو اترو کابو اته کاله وخت ونیو؛ خو د سوداګرۍ اړوند یې د نړیوالو قوانینو په جوړولو کې یو انقلابي بدلون راوست. د سوداګرۍ تر نړیوال سازمان World Trade Organization (وروسته، نږدې ۸۰ سلنه سوداګریز نړیوال هوکړه لیکونه د دغو خبرو اترو په پایله کې منځ ته راغلل.

افغانستان بیا نه د ګاټ پر هوکړه لیک لاسلیک کړی و او نه هم د اوروګوای د خبرو اترو برخه و. د سازمان تر تأسیس ۹ کلونه وروسته، افغانستان د غړیتوب لپاره رسمي غوښتنه وکړه او د ۱۲ کلونو له سختو مذاکراتو وروسته او د سوداګرۍ اړوند په پالیسیو او قوانینو کې د سازمان له غوښتنو سره سم تر بدلونونو راوستلو وروسته، د ۲۰۱۵ ز کال په ډسمبر کې د سازمان غړی شو.

**د څېړنې پوښتنې**

دا څېړنه دریو پوښتنو ته ځواب ورکوي. لومړۍ دا چې هېوادونه څه ډول د سوداګرۍ نړیوال سازمان ته الحاق کوي؟ دویم، د سوداګرۍ په نړیوال سازمان کې د غړيتوب له تر لاسه کولو سره افغانستان کوم حقوق او وجایب لري؟ دریم دا چې سازمان ته د الحاق پر مهال او له الحاق وروسته، افغانستان تر اوسه په خپلو قوانینو او پالیسیو کې څه بدلونونه راوړي دي؟

د همدې پوښتنو د ځوابولو لپاره دغه مقاله په لومړۍ برخه کې د سوداګرۍ نړیوال سازمان ته د هېوادونو الحاق، د الحاق د پروتوکولونو حقوقي ماهیت، WTO-Plus او WTO-Minus وجایب او سوداګرۍ نړیوال سازمان ته د الحاق لپاره د افغانستان تجربه په لنډه توګه تحلیلوي. په وروستیو برخو کې بیا په دغه سازمان کې د افغانستان له غړيتوب سره د هېواد حقوق او وجایب او د افغانستان په قوانینو کې د بدلونونو په اړه بحث شوی دی.

**د سوداګرۍ نړیوال سازمان ته الحاق**

هېوادونه د سوداګرۍ نړیوال سازمان غړیتوب له دوو لارو تر لاسه کوي. لومړی؛ اصلي غړیتوب دی. دا هېوادونه د ګاټ د تړون غړیتوب درلودونکي دي، چې د اوروګوای په خبرو اترو کې یې ګډون کړی و او په پایله کې د سازمان د تأسیس پر هوکړه لیک سره سلا شوي وو. دویم؛ غړیتوب د الحاق یا (Accession) له لارې اخیستل کېږي. هېوادونه یا ځانګړې ګمرکي سیمې (Customs territories) بیا د سازمان د تأسیس اړوند د مراکش هوکړه لیک Marrakesh Agreement Establishing the World Trade Organization (وروسته: مراکش هوکړه لیک) د ۱۲مې مادې له مخې غړیتوب اخیستلای شي.

د مراکش هوکړه لیک ۱۲مه ماده د الحاق په اړه داسې صراحت کوي، چې هېوادونه یا ځانګړې ګمرکي سیمې کولای شي چې دې موافقې ته په هغو شرایطو چې د غړیتوب غوښتونکی هېواد او د سازمان تر منځ به پرې هوکړه کېږي، الحاق وکړي. ۱۲مې مادې د سازمان غړو ته پراخ واکونه ورکړي او د نویو غړو هېوادونو برخلیک یې هم د برحاله یا اصلي غړو سره په مذاکراتو تړلی دی. ځکه د سوداګرۍ نړیوال سازمان ته الحاق د خبرو اترو پروسه ده او له همدې کبله یوه پېچلې، ستونزمنه او ډېره وخت نیوونکې ده. غړیتوب غوښتونکی هېواد باید د خبرو اترو پر مهال د سازمان ټول اصول ومني او هم خپل ملي قوانین او پالیسۍ د سازمان له اصولو او هوکړه لیکونو سره سمې عیارې کړي. پر دې سربېره، نوی غړی هېواد مکلف دی چې ټولې هغه ژمنې پلې کړي چې د مذاکراتو پر مهال یې له سازمان سره کړې وي، هغه که د تعرفو کمول او یا د سوداګرۍ سازمان د نورو قوانینو پلي کول وي.

د سوداګرۍ نړیوال سازمان ته الحاق تر نورو نړیوالو سازمانونو بالکل جلا ده. نومورې سازمان د نورو سازمانونو په پرتله بېلې ځانګړتیاوې لري چې یوه یې همدا ده چې نوي یوځای کېدونکي هېوادونه باید د اصلي غړو په پرتله اضافي او سخت اصول پر ځان ومني. دغه اضافي او سخت اصول بیا تر هر هېواد پورې ځانګړي وي. یانې هر هېواد چې له دې سازمان سره یوځای کېږي او په دې لړ کې له غړو هېوادونو سره مذاکرات کوي، د دغو مذاکراتو پایلې یوازې پر همدې هېواد تطبیقېږي او نور ترې مستثنا دي. تر دغه هېواد پورې ځانګړي شوي اصول بیا د هر هېواد د الحاق په پروتوکول کې ذکر کېږي. د الحاق پروتوکول د یوځای کېدونکي هېواد او د سوداګرۍ نړیوال سازمان تر منځ دوه اړخیزه هوکړه لیک وي.

**د سوداګرۍ نړیوال سازمان هوکړه لیکونه پر ټولو هېوادونو یو ډول اصول وضع کړي**

دا یو منل شوی حقیقت دی چې کله یو هېواد د سوداګرۍ نړیوال سازمان ته الحاق کوي، د اصلي غړو په پرتله باید ډېرې ستونزې وګالي او یو څه اضافي شرایط هم پر ځان ومني. دوی مجبور دي چې په موټر کې د کېناستو اضافه کرایه هم ورکړي. د سوداګرۍ نړیوال سازمان بیا تر نورو عامو سازمانونو بېخي جلا ځانګړتیاوې لري او ورته الحاق یو ستونزمن کار دی، خورا صبر، اوږده مذاکرات او ډېر وخت غواړي.

د ۱۹۹۴ ز کال د اوروګوای د خبرو اترو په پای کې، اصلي غړو د سوداګرۍ نړیوال سازمان پر تاسیس موافقه وکړه چې د معاهدې له تصویبېدو سره به غړي هېوادونه د ګاټ «غیر عادي حالت» ته د پای ټکی کېږدي. د لومړي ځل لپاره د نړیوالې سوداګرۍ رژیم د یوه رسمي نړیوال سازمان بڼه خپله کړه. د مراکش موافقې؛ سازمان ته حقوقي شخصیت ورکړ او د سازمان د چارو د تر سره کولو لپاره غړیتوب درلودونکي هېواد ته حقوقي صلاحیت ورکولای شو. د ګاټ غړي هېوادونه د مراکش د موافقې له مخې د سازمان اصلي غړي شول او د مراکش هوکړه لیک د سوداګرۍ نړیوال سازمان تاسیسوونکې معاهده شوه چې د غړو هېوادونو تر منځ یې د سوداګریزو اړیکو د تنظیم لپاره یو ګډ بنسټیز چوکاټ برابر کړ.

د مراکش موافقې له مخې هېوادونه اړ دي چې د سازمان اړوندې ټولې معاهدې په یوځای ومني. دې اصل د ګاټ مات شوی جوړښت ته هم د پای ټکی کېښود او یو ډول اصول یې پر ټولو اصلي غړو هېوادونو وضعه کړل. یانې د سازمان غړي مکلف دي چې ټول هوکړه لیکونه په یوځای تصویب او تطبیق کړي، داسې نه شي کېدای چې هېوادونه د سازمان ځینې هوکړه لیکونه تصویب کړي او د ځینو نورو له تصویبه تېر شي یا هم د ځینو اصولو له منلو انکار وکړي. هېوادونه اړ دي چې د سازمان ټولې موافقې؛ د یوه پکېج [بستې] په توګه ومني او تصویب یې کړي.

د مراکش هوکړه لیک همدا راز د نورو ټولو هغو معاهدو لپاره چې د اوروګوای د خبرو اترو په ترڅ کې پرې غړو هېوادونو هوکړه کړې وه، د یوې چترۍ ارزښت لري. یاد هوکړه لیک څلور ضمیمې لري چې له منځه یې لومړۍ، دویمه او دریمه ضمیمه د سوداګرۍ نړیوال سازمان د موافقې نه بېلېدونکې موافقې دي او پر ټولو هېوادونو تطبیقېږي. هېوادونه باید دا معاهدې ټولې په یوځای تصویب او د معاهدې له اصولو سره سم تطبیق کړي. په څلورمه ضمیمه کې بیا داسې موافقې دي چې یوازې پر هغو هېوادونو یې پلي کول اړین دي، چې دا موافقې تصویب کړي او نورو هېوادونو چې دا موافقې یې منلې نه وي، هغوی ته کوم وجایب نه ایجادوي.

سازمان د قوانینو د یو شان کولو او پر ټولو یې د یو ډول تطبیقولو په موخه په عمومي ډول تحفظاتو (Reservations) ته اجازه نه ورکوي، پرته له هغه حالته چې په یوه ځانګړي هوکړه لیک کې ورته اجازه ورکړل شوې وي.

**د مراکش هوکړه لیک پر ۱۲مې مادې نیوکې**

د سوداګرۍ نړیوال سازمان ته الحاق د مراکش هوکړه لیک د ۱۲مې مادې له مخې تنظیمېږي. ۱۲مه ماده له دې کبله چې برحاله غړو ته یې ډېر واک ورکړی، په پراخه توګه نقد شوې ده. خو په عمومي توګه پر دې مادې درې نیوکې کېږي:

لومړۍ- د مراکش هوکړه لیک له اصلي غړو سره نرم او د هغوی په خوښه چلند کوي او همدوی ته ډېر ګټور هم دی؛ خو له نویو الحاق کېدونکو هېوادونو سره بیا سخت چلند کوي؛ ځکه دا هېوادونه اړ دي چې سخت اصول او وجایب ومني. بېلګه یې موږ وړاندې (وګورئ: ۸ او ۹ لمنلیکونه) یاده کړه چې د اصلي غړو bound tariff یا د تعرفو اعظمي حد په ډېرو مواردو کې تر الحاق کېدونکو هېوادونو دوه او درې چنده زیات وي؛ خو الحاق کېدونکي هېوادونه تر هغه د سازمان غړیتوب نه شي اخیستلای، څو د برحاله غړو د خوښې تعرفې ونه مني.

دویم: د الحاق کېدونکي هېواد اړوند ځانګړي اصول country specific rules د سوداګرۍ نړیوال سازمان په موافقې کې شته حقوق او وجایب تعدیلوي او دا بیا د یاد سازمان د یوه مهم اصل «له تبعیض څخه لرېتوب» او «د تر ټولو مطلوب ملت Most Favored Nations (MFN)» یا «دولة کاملة الوداد» نقض دی. د دغه اصل موخه دا ده چې د غړو هېوادونو تر منځ یو ډول چلند وشي او له هېچا سره په تجارتي راکړه- ورکړه کې تبعیض ونه شي. که فرضاً د الحاق په پروتوکول کې د مراکش هوکړه لیک کې له شته وجایبو څخه اضافه نور وجایب پر نوي یوځای کېدونکي هېواد ومنل شي او د سازمان نور غړي یې پر منلو مکلف نه وي، دا د غړو هېوادونو تر منځ تبعیض ته لاره هواره وي. مثلاً، که لږ پرمختللي هېوادونه چې د سازمان اصلي غړي دي، تر ۲۰۳۱ ز کال پورې د TRIPS هوکړه لیک د ځینو مادو پر رعایت مکلف نه دي، خو افغانستان چې لږ پرمختللی هېواد هم دی، مکلف دی چې د ۲۰۱۹ ز کال د جنورۍ تر لومړۍ نېټې پورې ټول قوانین او پالیسۍ د TRIPS موافقې سره سمې عیارې کړي او یاد هوکړه لیک پلی کړي. دلته د افغانستان اړوند ځانګړي اصول د سوداګرۍ نړیوال سازمان د عدم تبعیض اصل نقضوي.

دریم: د سوداګرۍ نړیوال سازمان د ۱۲مې مادې لومړی پاراګراف، پرته له دې چې کوم محدودیت وضع کړي، پر دې ټینګار کوي چې د نویو غړو د الحاق اصول او شرایط به د اصلي غړو او الحاق کېدونکي هېواد تر منځ فیصله کېږي. د دې مادې پراخ عبارت، برحاله غړو هېوادونو ته اجازه ورکوي چې پر نوي یوځای کېدونکي هېواد داسې اصول او وجایب ومني چې د ګاټ د معاهدې پر اصولو سخت او اضافه وي.

دوام لري...

# د سولې خبرې او پر اوربند اختلافات؛

## امریکا عمومي؛ خو طالبان یوازې له امریکایي ځواکونو سره اوربند غواړي



د امریکا او طالبانو تر منځ پر اوربند اختلاف روان دی. طالبانو ته نږدې سرچینې وايي چې د امریکا او طالبانو تر منځ په روانو مذاکراتو کې پر ټولو مواردو هوکړه شوې ده، خو د اوربند پر سر اختلافات موجود دي. پخواني طالب چارواکي وايي چې امریکا پر عمومي اوربند ټینګار کوي، خو طالبان بیا وايي چې دوی یوازې له امریکا سره اوربند ته تیار دي. طالبانو ته نږدې سرچینې دا هم وايي چې له امریکا سره د مسودې تر لاسلیک وروسته به په لسمه ورځ بین الافغاني مذاکرات پیلېږي او په همدې مذاکراتو کې به پر اوربند خبرې کېږي.

له څو ورځو راهیسې د امریکا او طالبانو تر منځ مخامخ مذاکرات روان دي. امریکایي لوری له طالبانو سره پر خبرو لګیا دی او د دې تمه شته ده چې دواړه لوري ژر تر ژره د سولې هوکړه لاسلیک کړي. رسنۍ وايي چې امریکا او طالبان د سولې هوکړې د لاسلیک پر نېټه بحثونه کوي، خو ځینې سرچینې بیا وايي چې د اوربند پر سر د دواړو لورو تر منځ اختلافات روان دي. طالبان ټینګار کوي چې یوازې له امریکا سره اوربند کوي او له افغان حکومت سره د اوربند پر سر به په بین الافغاني خبرو کې بحثونه کېږي. خو امریکا وايي چې باید د دواړو لورو تر منځ یو عمومي اوربند رامنځ ته شي.

طالبانو ته نږدې کسان وايي چې طالبان د جګړې اصلي لوری امریکا بولي، نو له همدې امله لومړی له دغه هېواد سره د سولې هوکړه لاسلیک کول او بیا د افغاني خبرو پیلول غواړي. پخواني طالب چارواکي مولوي قلم الدین وویل: ((هلته چې یو څه تخنیکي مشکلات طالبان لري. اصلاً دلته جګړه او زور د امریکایانو دی، دوی دې هوکړه وکړي، جګړه دې ودروي او همدا چې دا مسئله یوې غاړې ته شي، بین الافغاني مذاکرات پیلېږي. په همدې مذاکراتو کې پر اوربند هم خبرې کېږي)).

پر طالبانو له دې امله په ټولنیزو رسنیو کې نیوکې ډېرې شوې دي چې ګواکې ولې له امریکا سره اوربند، خو له افغان حکومت سره جګړې ته ادامه ورکوي. دغه ډلې ته نږدې کسان وايي چې دمګړۍ مذاکرات له امریکا سره روان دي او د بین الافغاني مذاکراتو په اجنډا کې اوربند هم شامل دی. پخواني طالب چارواکي وايي چې د دواړو لورو تر منځ ډېری موارد حل شوي دي، خو یوازینۍ خنډ د اوربند مسئله ده، چې امریکا د عمومي اوربند او طالبان بیا یوازې له امریکا سره د اوربند خبره کوي.

طالبانو ته نږدې سرچینې وايي چې له امریکا سره د هوکړې له لاسلیک سره سم به لس ورځې وروسته بین الافغاني مذاکرات پیلېږي او په هغه کې اوربند د بحث مهمه موضوع ده. د سیاسي چارو شنونکی عنایت الله کاکړ وايي: ((د هوکړې په موسوده کې دا راغلي چې تر لاسلیک لس ورځې وروسته به بین الافغاني مذاکرات پیلېږي. په همدې غونډه کې به د طالبانو او افغان حکومت تر منځ پر اوربند هم خبرې کېږي)).

بلخوا داسې اندېښنې هم شته چې ښایي د مذاکراتي ټیم او نورو مواردو پر سر د سیاسي جهتونو تر منځ د اختلافونو پر رامنځ ته کېدو بین الافغاني مذاکرات وځنډېږي او دا مسئله جګړه اوږده کړي. د سیاسي چارو شنونکي او دغه راز د پارلمان ځینې غړي دا اندېښنه لري چې له امریکا سره د مذاکراتو تر پای ته رسېدو وروسته، طالبان ښایي له افغان حکومت سره جګړې ته ادامه ورکړي او په دې توګه به په هېواد کې یو بل بحران پیل شي.

د مشرانو جرګې غړی عبدالله قرلق وايي چې د جګړې اصلي قربانیان اوس هم افغانان دي او له اوربند پرته له امریکا سره د طالبانو د سولې خبرې افغانانو ته هېڅ ګټه نه شي رسولی. هغه وايي: ((جګړه افغانان کوي، وژل کېږي افغانان، خو اوربند له امریکا سره کېږي، دا مسئله د افغانستان په ګټه نه ده)).

د مشرانو جرګې یوه بل غړي عبدالولي علیزي وویل چې دا سوله د افغانانو سوله نه ده؛ بلکې د طالبانو او امریکا سوله ده چې افغانانو ته ګټه نه شي رسولی. علیزی وايي: ((د امریکایانو پاتې وسلې به له طالبانو سره وي، امریکا به یې ملاتړ کوي او وژل کېږي به افغانان)).

د اوربند پر سر د اختلافاتو خبره داسې مهال کېږي چې د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ افغانستان ته د سفر پر مهال دلته د جګړې د پای ته رسېدو او ژر تر ژره د یوه اوربند د رامنځ ته کېدو خبره هم کړې وه.

## یوناما: میلیونونه افغان ماشومان له خپلو حقونو بې برخې دي

د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوي یا یوناما ویلي، د افغان ماشومانو د ژوند د ښه کېدو په برخه کې له پرمختګونو سره سره، اوس هم ماشومان په دغه هېواد کې د جګړو، تاوتریخوالي او جنسي زورزیاتي اصلي قربانیان دي.

د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوي یا یوناما په یوه اعلامیه کې بشري حقونو ته د افغان ماشومانو نه لاسرسي له امله اندېښنه ښودلې ده.

یوناما ویلي، په افغانستان کې د روان ۲۰۱۹ ز کال د مارچ په میاشت کې د ماشومانو د قانون د تصویب په ګډون، روغتیایي او ښوونیزو خدماتو ته د هلکانو او نجونو د لاسرسي په ګډون، یو لړ د پام وړ پرمختګونه شوي، خو له دغو پرمختګونو سره سره، لا هم په میلیونونو افغان ماشومان له خپلو اساسي بشري حقونو بې برخې دي.

په اعلامیه کې راغلي: «په دې کې د ژوند کولو حق، زده کړو او روغتیایي خدماتو ته د لاسرسي حق، د تفریح حق او بشپړې ورتیا ته د هغوی د رسېدو لپاره د پرمختیا حقونه شامل دي».

په بیان کې دغه راز راغلي چې ماشومان لا هم په ښوونځیو او روغتیایي مرکزونو کې د بریدونو له منفي اغېزو سره او په نامناسب ډول د جګړې له پاتې ناچاوده توکو صدمهویني او په جګړه کې د ښکېلو اړخونو له خوا له استخدام او جنسي تاوتریخوالي سره مخ دي.

د یوناما د بشري حقونو د برخې مشرې فیونا فریزر چې د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمېشنرۍ د افغانستان د ځانګړې استازې هم ده، ویلي: «د بشري حقونو د قربانیانو د ستونزو اورېدل باید د افغان چارواکو د مهمو لومړیتوبونو په سر کې ځای ولري، په ځانګړي ډول کله چې قربانیان ماشومان وي، ځکه چې د حساب ورکولو نشتوالی له سزا ورکولو زمینه پراخوي چې له کبله یې د بشري حقونو ناوړه ګټه اخیستونکو ته د ودې زمینه برابرېږي».

دا په داسې حال کې ده چې د څېړنو له مخې، افغانستان ډېر ځوان نفوس لري او تقریباً دوه پر درې برخه وګړي یې له ۲۵ کلنۍ کښته عمر لرونکي بلل کېږي.

د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د پرېکړې پر اساس، یوناما د ملکیانو د خوندیتوب او څارنې په اړوندو مسئلو کې خپلې بوختیا ته دوام ورکوي او د ماشومانو پر وړاندې د شپږو لویو او جدي سرغړونو په اړه به راپور ورکولو ته دوام ورکړي.

یوناما وايي: «پردې سربېره به د بشري حقونو د ودې او د وسله والو ډلو په لیکو کې د ماشومانو د جذبولو په تور، د ماشومانو ساتل کېدونکو ځایونو په ګډون، له توقیف ځایونو څارنې ته دوام ورکوي. یوناما موندلې چې د لویانو په پرتله دغه ډول ماشومان په لویه کچه له ځورونې او ناسم چلند سره مخ دي».

## اروپايي ټولنه: د ټاکنو د پایلو د اعلان ځنډ د خلکو د حقونو تر پښو لاندې کولو په مانا دی

په افغانستان کې د اروپايي ټولنې سفیر پیري مایډون ویلي، د ټاکنو د پایلو په اعلان کې ځنډ د خلکو د حقونو تر پښو لاندې کول دي.

هغه ویلي: «د ټاکنو ځنډ چې له دوو میاشتو راهیسې ولس ورته منتظر دی، د خلکو حقونو تر پښو لاندې کول دي، د دوو میاشتو په تېرېدو سره لا هم د ټاکنو لومړنۍ پایلې نه دي اعلان شوې».

دا په داسې حال کې ده چې ولسمشریزې ټاکنې د روان لمریز کال د تلې په شپږمه وشوې، خو د ټاکنیزو درغلیو د ادعاوو له امله دغه بهیر کړکېچن شوی او لا هم څرګنده نه ده چې کله به یې پایلې اعلان شي.

د عبدالله عبدالله په مشرۍ د ثبات او همپالنې او ځینې نور ټاکنیز ټیمونه ادعا لري، چې شاوخوا ۳۰۰ زره رایې د ټاکنو قانون او طرزالعملونو له مخې باطلې دي او باید له سیستمه و ایستل شي، خو د ټاکنو کمېسیون یې معتبرې رایې ګڼي.

له همدې امله دغو ټیمونو په اوو ولایتونو کې د رایو د بیاشمېرنې مخه نیولې، څو کمېسیون ونه توانېږي چې دغه بهیر بشپړ کړي او پایلې جمع بندي کړي.

که څه هم پر دې ستونزې د بحث لپاره د تېرې یکشنبې په ورځ د ټاکنو کمېسیون له ټاکنیزو ډلو او څارونکو ادارو سره یوه ګډه ناسته جوړه کړې وه، خو ښکېلې خواوې ونه توانېدې چې یوې حللارې ته ورسېږي.

د ټاکنو خپلواک کمېسیون دغه راز ویلي، دوی نور وخت نه لري چې له معترضو ټاکنیزو ډلو سره مذاکره وکړي.

بلخوا د ثبات او همپالنې ټاکنیزه ډله او نور معترض نوماندان خبرداری ورکوي، که د ټاکنو خپلواک کمېسیون خپل کار ته په همدې ډول دوام ورکړي، په افغانستان کې د کړکېچ، سختۍ، پېچلتیا او ستونزو مسوولیت به یې پر غاړه وي.

په ورته وخت کې د ټاکنو خپلواک کمېسیون چارواکي وايي چې دوی به د ټاکنیزو ستونزو د هواري په موخه، د ټاکنیزو قوانینو طرزالعملونو، لایحو او مقرراتو په رڼا کې پرېکړه وکړي.

د دغه کمېسیون مرستیال عصمت الله مل ازادي راډیو ته ویلي: «د ۷ ولایتونو په اړه زموږ خبرې روانې دي، تر اوسه تصمیم نهایي شوی نه دی، موږ به په دې اړه پرېکړه وکړو. نه شم ویلای چې کله به دغه پرېکړه وشي، د کمېسیون د غړیو تر منځ خبرې روانې دي».

په ورته وخت کې د ټاکنو خپلواک کمېسیون ویاند ذبیح سادات د اروپايي ټولنې اندېښنې پر ځای بولي او ټینګار کوي چې د لومړنیو پایلو د اعلان په اړه به ژر پرېکړه وکړي.

## راپورونه: په قزاقستان کې د سوریې د کورنۍ جګړې د دایمي هواري پر لارو چارو بحث کېږي



د ترکیې، ایران او روسیې پلاوي د قزاقستان پلازمېنې نورسلطان ته رسېدلي، څو د سوریې په اړه نړیواله دوه ورځنۍ غونډه پیل کړي.

د راپورونو له مخې، ټاکل شوې په دغو خبرو کې د سوریې د کورنۍ جګړې د دایمي هوارۍ پر لارو چارو بحث وشي.

د قزاقستان د بهرنیو چارو وزارت ویاند ایبیک صمدیاروف خبریالانو ته ویلي چې د ترکیې، قزاقستان او روسیې پلاوي به دغلته دوه ورځنۍ درې اړخیزې خبرې کوي.

چارواکو ویلي، دا غونډه د دې لپاره جوړه شوې چې د سوریې اته کلنې کورنۍ جګړې ته دایمي حل ومومي. په هغو موضوعاتو کې چې دا خبرې پرې متمرکزې دي، هغه له جګړې وروسته د سوریې لپاره د اساسي قانون د یوې مسودې جوړول، سیاسي انتقال، امنیت او د کډوالو بېرته ستنول شامل دي. د روسیې خبري اژانسونو په دې غونډه کې د سوریې د حکومت او همدارنګه د حکومت د وسله والو مخالفانو د استازو د ګډون خبر هم ورکړی دی.

د روسیې ایټرتاس خبري اژانس ویلي چې په ملګرو ملتونو کې د سوریې د حکومت د استازي بشر جعفري په مشرۍ، د سوریې د حکومت یو پلاوی هم په دغو نړیوالو خبرو کې د ګډون لپاره نورسلطان ته رسېدلی دی.

یاد خبري اژانس د قزاقستان د بهرنیو چارو وزارت د ویاند له خولې ویلي چې په دې نړیوالو خبرو کې د سوریې د رژیم د وسله وال اپوزیسیون یو ۱۲ کسیز پلاوی هم ګډون کوي، چې مشري به یې احمد توامه کوي.

سرچینې دغه راز ویلي چې په خبرو کې به د ملګرو ملتونو، اردن، لبنان او عراق استازي هم برخه ولري.

د یادونې ده چې د سوریې په تړاو د خبرو اترو دغه لړۍ چې د استانې پروسه یې بولي، لومړنۍ غونډه یې د ۲۰۱۷ ز کال په جنوري میاشت کې په ترکیه کې د دې لپاره جوړه شوه، چې هغه مهال په جنیوا کې د ملګرو ملتونو په ملاتړ د سولې د خبرو ملاتړ وکړي.

بلخوا د قزاقستان د ستراتېژیکو مطالعاتو د انسټېټیوت مرستیال سانات کشکومباییف ایرواکټیف رسنیو ته ویلي چې دا غونډه به د سوریې په شمال کې، د ادلیب په سیمه کې او د فرات سیند پر څنډو د وضعیت پر تخنیکي اړخونو متمرکزه وي.

د نوموړي په خبره، دا به د همدې سیمې په اړه د پخوانیو هوکړو د غځولو په هکله وي. کشکومباییف زیاته کړې چې دا ډېره حساسه سیمه ده، چېرې چې ترکان، کردان او د اسلامي دولت ډلې د ترهګرو پاتې شونې موجود دي.

د یادونې ده چې روسیه او ایران په سوریه کې د بشارالاسد د رژیم ټینګ ملاتړ کوي، خو ترکیه بیا د سوریې د حکومت د ځینو وسله والو مخالفو ډلو ننګه کوي.

## د کتــاب خبـرې

# پښتانه

### د افغانستان او پاکستان د راتلونکي ناحل شوې مسئله


◎ لیکوال: ابوبکر صدیق

◎ ژباړن: اقامحمد قریشي

**دریمه برخه**

**افغانستان**

## لسم څپرکی
## په لوی کندهار کې نوي طالبان



د ۲۰۰۲ز کال په فبروري کې مې یوه وړه الوتکه کې کندهار ته سفر وکړ. غزني کندهار ته مې دا لومړی سفر و. د سفر پر مهال راته وویل شول چې د کندهار هوایي ډګر د طالبانو د واکمنۍ پر مهال د القاعدې نظامي اډه وه. د ۲۰۰۱ز کال ډسمبر میاشت دلته د امریکایي ځواکونو په سخته جګړه کې په سلګونو عرب جګړه ماران وژل شوي وو.

له کندهار هوایي ډګر څخه څو کیلومتره لیرې دې تاریخي او لرغوني ښار ته لار ننوتلې. د کندهار ښار ډېری کورونه له خښتو او خاورو جوړ دي. زوړ ښار له نوي ښار څخه توپیر کوي، دلته سړکونه او کوڅې وړې، خو په نوي ښار کې پراخ سړکونه او نوې ودانۍ لیدل کېږي.

دلته په وروستي معاصر تاریخ کې ډېرې جګړې شوې دي. ځینې دولتي ودانۍ چې له روسانو سره د جګړې پر مهال ویجاړې شوې تر دې مهال هماغسې ویجاړې ولاړې وې. زړو ودانیو له نوو توپیر کاوه. هغه چې د امریکایي الوتکو په بریدونو کې ورانې شوې وې، هم له ورایه ښکارېدې. ډېری کندهاریانو به پر دې ښار د غورځول شوو وېروونکو میزایلو او امریکایي بمونو کیسې کولې.

له لومړنیو هوایي بمباریو سمدستي وروسته د افغانستان په دې دوهم اړین او لوی ښار کې ژوند عادي حالت ته تللی و. عام خلک به له لویو او پراخو جامو، رنګینو لونګیو او لنګوټو سره په خټینو کوڅو کې ګرځېدل. هلکانو به د فوټبال او ګوډي الوزولو لوبې کولې. نجونو ښوونځیو ته تګ پیل کړی و. دا مهال د طالبانو د امر باالمعروف او نهی عنی المنکر اداره ورکه شوې وه، کندهاریانو به کندهاري موسیقي هم اورېده. په ډېریو ټکسي موټرونو کې د سویل د نامتو سندرغاړي، عبیدالله جان سندرې غږېدې.

خو ژوند لا له ګواښونو سره مخ و. راتلونکو میاشتو کې مې د افغانستان د سویل ځینو سیمو ته سفرونه وکړل. له دې حقیقت څخه سترګې نه پټېدې چې اکثره عامو افغانانو په سخت غربت کې ژوند کاوه. کلونو جګړو او وچکالۍ د مالدارو او کروندګرو د ژوند ستونزې لا ډېرې کړې وې. له کندهار ښار څخه دوه ساعته سفر وروسته مې ولیدل چې د پاکستان پولې ته څېرمه ۹۰۰۰۰ کوچیانو او کروندګرو د بې ځایه شوو په کمپ کې ژوند کاوه.

په لوی کندهار کې د کندهار، هلمند، زابل، ارزګان، فراه او نیمروز ولایتونه شامل دي. دا لرغونی ښار په پخوا کې د اراکوزیا په نوم یادېده. د دې ښار خښته څلورمه ق. م پېړۍ کې د لوی سکندر له لوري ایښودل شوې. په دې ولایت کې د درانیو او غلجیو لوی قومونه اوسېږي، هغوی د پښتو کره لهجه او کندهاری دود پالي. له پېړیو پر دې سیمه لویو امپراتوریو چپاوونه راوړي چې په ترخ کې یې جګړې او ورانۍ شوې دي. د دې سیمې حاصل خېزه ځمکو دا ځای په کرنیز مرکز بدل کړی. ایران او پاکستان ته یې په نږدېوالي سره د یوې اړینې دوه لارې ارزښت خپل کړی دی.

دې سیمې د معاصر تاریخ په ۱۸مه پېړۍ کې پښتانه امپراتوران زېږولي چې د غلجیو او درانیو له قومونو څخه دي. دا امپراتورۍ تر معاصر ایران او هندوستان پورې ورسېدې، ځکه نو کندهاریان تل وایي چې د افغانستان برخلیک له کندهار سره تړلی دی. د ویښو زلمیانو اصلاح غوښتونکی غورځنګ په ۱۹۴۰ز لسیزه کې را پورته شو. هغوی پر اساسي قانون ولاړ دولت او د اتباعو د حقونو لپاره مبارزه وکړه. د دې غورځنګ اکثرو غړو د شلمې پېړۍ افغانستان لپاره ډېرې هڅې وکړې. له کورنۍ جګړې وروسته په ۱۹۹۰ز لسیزه کې له همدې ځایه طالبان راپورته شول. کندهاریان د پاکستان د سویل لوېدیځ ولایت بلوچستان له پښتنو سره په دودیزه توګه ډېر نږدېوالی لري. دا دلیل سبب شوی چې پاکستاني جاسوسان د اسلاماباد پالیسیو د پلي کولو لپاره په اسانۍ سره کندهار ته ننوتلای شي. د ۱۹۸۰ز لسیزې له پیله کندهار د نیابتي جګړو په برخه کې کلیدي رول لاره.

په ۲۰۰۲ز کال، په کندهار کې پر سیاسي بې ثباتۍ او نېستۍ سربېره بیا هم خلک عادي ښکارېدل. هغه مهال کندهار یوازینی لوی ښار و چې پر شپني ګرځېدو پکې بندیز و. کندهاریان خوښ وو چې له همدې سیمې یو شاهي پال او پیاوړی قومي مخور حامد کرزی د امریکا د ملاتړ لرونکې انتقالي دورې مشر ټاکل شوی و. اکثرو یې د نړیوالې ټولنې په ملاتړ د سولې، پرمختګ او د هغوی په ژوند کې د بدلون هیلې لرلې، خو ځینو کندهاریانو بیا د حامد کرزي په حکومت کې د ټوپکیانو پر شاملېدو اندېښنه لرله. د مجاهدینو هغو ډلو چې د روسانو پر ضد یې جګړه کړې وه، د طالبانو د حکومت له ړنګېدو وروسته حکومت کې یې د لویو ونډو غوښتنې کولې. کندهاریانو وېره لرله، که یو ځل بیا واک د ټوپکیانو لاس ته ورشي، ښایي بیا ناامني شي.

### مړ کېدونکی ملت

په لوی کندهار کې د ۲۰۰۳ز کال تر دوبي پورې ارامي وه. دا ځل د زړو تنو پر شاوخوا طالبانو د زابل ولایت د دای چوپان ولسوالۍ له غرونو جګړه پیل کړه. له پیله طالبانو د قومي مخورو په وېرولو لاس پورې کړ، هغوی یې له کورونو وشړل. کله چې راتلونکو کلونو کې د طالبانو جګړه د سویل ډېرو ولایتونو ته وغزېده، هغوی د قومي مشرانو په له منځه وړلو تمرکز وکړ. هغوی قوي قومي مخور، د حکومت مامورین او پوهان خپل هدف وګرځول. **دوام لري...**

# د جذب ځواک

◄ اکسوس کتابپلورنځی

لوړو څوکو ته د رسېدو لپاره باید د راښکون(جذب) ځواک ولرو. امریکایي لیکوال سارا برنارد وایي، راښکون هرڅه دی او هېڅ هم نه دی. هڅه او کوښښ، د غړو تناسب، په غږ، سلوک او حرکتونو کې ارامتیا، د څېرې ښایست یا ښکلا هېڅ هم اړین نه دي؛ یوازې هغه څه چې اړین دي او موږ د نورو د راجلبولو په پار ورته اړتیا لرو، هغه د یو چا د زړه او روح جذب یا راښکون دی.

د ښو او نامتو وییناوالو رازونه په اصل کې هېڅ رازونه نه دي، دغه رازونه له نورو سره د تعامل هغه ثابتې او ساده کړنې دي، چې په پایله کې یې نور کسان له تاسې سره اړیکې پیدا کوي او پیغام مو اوري. په ټوله کې هغوی ډېر زیات تر اغېز لاندې راځي، له تاسې توکي پېري، په سوداګرۍ او شخصي اړیکو کې مو د ننه کېږي او ستاسې پر وړاندې مثبت نظر پیدا کوي.


ستاسې هغه ځواک د دې لپاره چې جذاب او بشپړ مینه ناک و اوسې، له هرې ځانګړتیا څخه به ډېر ستاسې لپاره د بریالیتوبونو دروازې پرانیزي. ډېر خلک به مو خوښ کړي او صمیمي چلند به درسره وکړي. ستاسې د لیدو لپاره یې هیلې ډېرېږي، خبرو ته مو غوږ نیسي، د ملګرو ټولې مو درځي او تاسې د خپلو خوښیو او مجلسونو ټولې ته راولي.

د کتاب لیکوال ټریسي وایي، موږ په سلګونو هغو وییناوو او ښوونیزو خپرونو کې چې خلکو ته مو وړاندې کړې دي، په ځلونو ویلي دي: «په نړۍ کې ارزښتمنه شتمني زر یا الماس نه دي، راښکون دی».

ستاسې باور، ستاسې په نشتون کې ستاسې په اړه د خلکو فکرونه او خبرې، ستاسې ارزښتمنه شخصي او مسلکي شتمني ده. دغه باور د اغېزو یوه ټولګه ده چې په یوه غونډه کې یې پر حاضرو خلکو غورځوی.

د راښکون او د هغه د تمرینونو په اړه د ساده حقایقو په زده کولو سره کولای شی له نورو سره د تعاملاتو اغېزې او ګټې په روښانه توګه ډېرې کړی، له خپلې کورنۍ یې پیل کړئ او له ټولو کسانو سره چې تاسې ورسره اړیکې لری، تجربه یې کړئ.

تاسې به بریالي وی، ډېر عابد، چټک پرمختګ او ډېر پلور به ولری، په ډېریو مذاکراتو کې به بریالي وی او له نورو سره د مخامخ کېدو په وخت به قانع کوونکي او نفوذ لرونکي ښکاره شی.



ښتینی راښکون له بهرني ښایست څخه ډېر غوره دی. دا داسې ځواک او وړتیا ده چې ځینې کسان یې د دوستانه اړیکو جوړولو لپاره لري، چې نور کسان بیا د ده په شتون سره ښه احساس کوي.

(د جذب ځواک) کتاب امریکایي مشهور وییناوال براین ټریسي او ران اړډن لیکلی. پښتو ژباړه یې محب الله عمري کړې ده چې همدا پښتو بڼه یې په ۱۲۲ مخونو کې راټوله شوې ده.

مینه وال کولای شي یاد کتاب پر اکسوس سربېره، د ښار له نورو لویو کتابپلورنځیو څخه هم په مناسب قېمت تر لاسه کړي.

## روانه اونۍ اکسوس کتاب پلورنځي ته تازه راغلي کتابونه

Aksos

| شمېره | د کتاب نوم | لیکوال / ژباړن | بیه |
|---|---|---|---|
| ۱ | THE ALCHEMIST | PAULO COELHO | ۱۵۰؋ |
| ۲ | Tree or Three Elementary Pronunciation | ANN Baker | ۱۲۰؋ |
| ۳ | Ship or Sheep? an intermediate pronunciation Course 3th | | ۱۴۰؋ |
| ٤ | Better English Pronunciation | J.D.O'Connor | ۱۲۰؋ |
| ٥ | پردېس عربي پښتو قاموس | عبدالرحمن بن ابراهیم | ۱۵۰؋ |
| ٦ | پلټونکې خبریالي | پوهیالی احمدضیا الهام | ۷۰؋ |
| ۷ | اړیکو اساسات | پوهندوی محمدخان نیازی | ۲۳۰؋ |
| ۸ | په افغانستان کې د عنعوي جرګو نن او پرون | عبدالجلیل وجدي | ۱۵۰؋ |
| ۹ | تهیه او تدارکات د تدارکاتو قانون | سراج الدین حلیمزی | ۱۵۰؋ |
| ۱۰ | د انجنیر احمدشاه احمدزي ژوند او مبارزه | څېړنوال محمد آصف احمدزی | ۳۰۰؋ |
| ۱۱ | د ځان مدیریت | محمد ابراهیم رحیل | ۷۰؋ |
| ۱۲ | تاریخ افکار سیاسی با تجدید نظر و اضافات | عنایت الله اکبری | ۱۸۰؋ |
| ۱۳ | بایبل پیژندنه | عبدالغفار جبیر | ۱۱۰؋ |
| ۱٤ | د ګوانتانامو ۳ بندیان | انجنیر نظرمحمد مطمئن | ۸۰؋ |
| ۱٥ | طالبان په جاپان کې موږ په وارسا کې | | ۱۲۰؋ |
| ۱٦ | طالب مشرانو سره شپږ ورځې د کندهار د سولې چیغه | | ۲۰۰؋ |
| ۱۷ | ښکلي ځوابونه | عبدالغفار جبیر | ۱۸۰؋ |
| ۱۸ | داستان جهاد افغانستان روایت کرنل | احمد رضوان تارر | ۱۰۰؋ |
| ۱۹ | د افغانستان د جهاد داستان | | ۱۰۰؋ |
| ۲۰ | فشرده تاریخ سیاسی جهان | پوهنیار دګروال تاج محمد صائب اسماعیل روشنګر | ۳۰۰؋ |
| ۲۱ | زما ژوند د هوا په سترېو څپو کې | ډګر جنرال قهرمان عبدالوهاب وردګ پیلوټ | ۱۰۰؋ |
| ۲۲ | په نیمه لار کې پاتې (ناول) | صحت سمسور | ۷۰؋ |
| ۲۳ | بسپنه (ناول) | عبدالهادي حماس | ۱۵۰؋ |
| ۲٤ | لېونی پر بام | عزیز نسین | ۱۰۰؋ |
| ۲٥ | اساسات نرسنګ | الحاج داکتر ریاض شرف زی | ۲۵۰؋ |
| ۲٦ | د خندا په څپو کې له خندا او ساتیرۍ سره انګلیسي هم زده کړئ | دلاور حقمل | ۱۰۰؋ |
| ۲۷ | ماندلامبارزبی کینه | جاوید قربان اوغلی | ۲۵۰؋ |
| ۲۸ | روایت های طالبان | توماس جانسون | ۳۰۰؋ |
| ۲۹ | فیدل کاسترو پس از کناره ګیری | داود جلیلی | ۱۰۰؋ |
| ۳۰ | د جذب ځواک (څنګه خلک ځان ته جذب کړو) | محب الله عمری | ۱۰۰؋ |

**په خپل کور او کار ځای کې د کتابونو د تر لاسه کولو لپاره له لاندې شمېرو سره اړیکه ونیسئ**

پته: دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ اړیکه: 0798-98-9696 - 0202504652

همیانی

# د پولي سیاست موخې

لکینه: ګلاب بهار

د پولي سیاست اصلي او معمولي موخې په لاندې ډول دي:
۱- بشپړ استخدام
۲- د بیو ثبات
۳- اقتصادي وده او پرمختګ
۴- د تادیاتو بیلانس.

**۱ـ بشپړ استخدام:** بشپړ استخدام د ټولو ملتونو د پولي سیاست تر ګردو مهمه موخه ده، ځکه:

**الف:** کله چې استخدام بشپړ وي، نه یوازې په اقتصاد کې کاري ځواك بېکاره نه پاتې کېږي، بلکې له سرچینو څخه یې هم ښه ګټه اخیستل کېږي.

**ب:** د بېکارۍ لوړه کچه انسانانو او انساني ټولنې ته بدبختۍ زېږوي، کورنۍ اړ کېږي چې مالي ستونزو ته اوږه ورکړي او د بشپړ استخدام نشتوالی ټولنه د بالقوه بهرني لامل د ضایعاتو او کموالي پر لور رهبري کوي او په ټولنه کې د فقر ریښې غځوي.

له بشپړ استخدام څخه موخه دا نه ده، چې د بېکارۍ کچه باید صفر وي، بلکې بشپړ استخدام هغه وضعیت دی، چې په هغه کې د کار عرضه او تقاضا سره برابر وي.

اقتصادپوهان د بشپړ استخدام په شرایطو کې د استخدام نرخ یا کچه د طبیعي بېکارۍ نرخ یا کچه بولي. د بېکارۍ کچه ثابته نه وي، بلکې له یوې دورې څخه بلې هغې ته توپیر کوي.

د بېلګې په توګه، د ۱۹٦۰یمو کلونو په اوږدو کې اقتصادپوهانو د بېکارۍ څلور سلنه نرخ د موخې په توګه په پام کې نیوه، چې په همدې دوره کې د څلور سلنه بېکارۍ کچه یا نرخ د طبیعي بېکارۍ نرخ بلل کېده او د استخدام شرطونه بشپړ وو.

په هر حال، د طبیعي بېکارۍ نرخ او کچه له یوه هېواده بل هېواد ته توپیر لري، د وخت په تېرېدو او د نویو شغلي فرصتونو په رامنځ ته کېدو سره د هغه کچه یا نرخ پورته کېږي، چې دولتونه یې باید د کموالي او مخنیوي د سیاست په لټه کې شي.

**۲- د بیو ثبات:** د پولي سیاست بله موخه د بیو ثبات دی، ځکه د بیو نوسانات په اقتصاد کې شك او بې ثباتي منځ ته راوړي. د بیو لوړېدل او ټیټېدل دواړه ځینو خلکو ته بې فایدې او بې مورده یا نامشروع زیان اړوي.

د بېلګې په توګه، کله چې په اقتصاد کې تورم شتون ولري، د مصرفوونکو، تولیدوونکو او د دولت له خوا تصمیم نیول له ستونزو سره مخ کېږي. د بیو د سطحې ساتل د پیسو د اخیستلو قدرت په داسې ترتیب سره چې د پانګونې د هڅونې او د استخدام د سطحې مانع نه شي او د بیو د ټیټوالي د اقتصادي نوساناتو او تموجاتو په موخه اغېزمن تدبیرونه د دولتونو یا پالیسۍ جوړوونکو له خوا طرحه کېږي، څو مؤلدین او مستهلکین بې موجبه زیانمن نه شي.

په ډېرو شدیدو تورمونو کې د بیو ناثابتوالی پر اقتصادي فعالیتونو اغېزه کوي.

مخ پر وده هېوادونو په ځانګړې توګه په افغانستان کې د بیو د ثبات اصلاح ډېره مهمه ده. لکه څنګه چې د افغانستان بانك په قانون کې د بیو ثبات د لومړۍ موخې په توګه او مالي ثبات د دویمې موخې په توګه راغلی، ځکه د پولي نظام ثبات او د مالي نظام وده د افغانستان بانك له مسوولیتونو ګڼل کېږي.

**۳- اقتصادي وده:** د پولي سیاست بله مهمه موخه د اقتصاد متوازنه وده ده. د اقتصاد وده او بشپړ استخدام له هغو موخو څخه دي، چې یو له بل سره ډېرې نږدې اړیکې لري او په لاندې ډول تعریفېږي:

اقتصادي وده په عام ډول د تولیداتو او د هغو عواملو (مؤلدیت) د پایلو د کمیتي او کیفي ارزونې او اندازه کولو په مانا ده او په ځانګړي ډول اقتصادي وده د هېواد او سیمې د ملت د قدرت په لوړوالي کې د ظرفیت او ملي حقیقي محصول له زیاتوالي څخه عبارت ده. یا په بله وینا، اقتصادي وده هغه پړاو یا جریان دی چې د هغې په وسیله د یوه هېواد حقیقي عاید په اوږده وخت کې ډېروالی مومي او اقتصادي وده په یوه هېواد کې د تولید شویو خدمتونو او اجناسو له زیاتوالي څخه په ګټې اخیستو سره اندازه کېږي.

له دې امله په یوه هېواد کې اقتصادي وده هغه مهال واقع کېږي، چې تولیدي ظرفیتونه ډېر شي، چې له هغو څخه په ګټې اخیستلو سره توکي او خدمتونه ډېر تولیدېږي. یا هم داسې چې مدیران او پانګوال اصولاً هغه مهال د اقتصادي ګټې او ودې په موخه پر وسایلو او ابزارو پانګونه کوي، چې د بېکارۍ کچه یا نرخ ټیټ وي.

په بل تعبیر که د بېکارۍ کچه لوړه وي او کارخونې بېکاره وي، د صاحبانو لپاره د نوې پانګونې او نویو کارخونو د جوړولو انګېزه به هېڅ نه وي. په هر حال، که څه هم دا دوې موخې یو له بل سره تړلې دي، خو کېدای شي داسې سیاست ګذاري وشي چې موسسې مستقیماً پانګونې ته وهڅول شي او اقتصادي وده لوړه شي. یا دا چې خلك د ډېرو طرفونو د تامین لپاره د موسسو د مالي تامین لپاره سپمونې ته وهڅول شي. د بېلګې په توګه، د مالیاتو د کموالي او معاملاتي انګېزې له لارې پانګوال په تولیدي ابزارو او وسایلو کې پانګونې او سپموونکي سپما ته وهڅول شي.

**۴- د تادیاتو بیلانس:** د پولي سیاست بله موخه د هېواد د تادیاتو د بیلانس برابر ساتل دي. د دې موخې تر لاسه کول دا غواړي چې هېواد په نړیواله سوداګرۍ کې وده وکړي. دا څرګنده ده چې د تادیاتو په بیلانس کې کسر نورو موخو ته د رسېدو لاره ستونزمنوي او د تادیاتو په بیلانس کې کسر دا مانا ورکوي، چې اسعار یا سره زره بهر ته روان دي. د تادیاتو د بیلانس په اړه د هر هېواد موخه د صادراتو او وارداتو مساوي کول دي، پر دې بنسټ په عمل کې هغه هېواد چې غیر کاپي اسعاري زېرمې لري، باید صادرات د تادیاتو په بیلانس کې خپله موخه وګرځوي.

که یو هېواد د ډاډ وړ او مناسبې زېرمې ولري، باید د هېواد موخه د صادراتو او وارداتو مساوي والی وي. د تادیاتو د بیلانس د تعادل ساتل د پولي سیاست یو حتمي کار او امر دی؛ نو پر دې بنسټ پوښتنه مطرح کېږي چې د تادیاتو په بیلانس کې څرنګه تعادل راوړو؟ د تادیاتو په بیلانس کې کسر دا مانا ورکوي، چې په اقتصاد کې د پیسو عرضه زیاته ده او د دغو اضافي پیسو لپاره باید په اقتصاد کې اعتبار رامنځ ته شي او تقاضا اضافه شي، یانې د تادیاتو د بیلانس کسر په یوه هېواد کې د پیسو د عرضې له زیاتوالي څخه انعکاس کوي او د تعادل لپاره یې باید خلك خپلې اضافي پیسې د بهرنیو توکو او یا د پور پر اسنادو باندې د یوه ثابت نرخ تر سیسټم لاندې ولګوي او بانك هم باید اسعاري زېرمې لوړې کړي او کورنۍ پیسې وپېري، څو د اضافه پیسو عرضه له منځه لاړه شي.

له بل پلوه که د پیسو عرضه ټیټه وي او پیسو ته تقاضا زیاته وي، دا مانا ورکوي چې د تادیاتو په بیلانس کې زیاتوالی راغلی، چې په دې حالت کې خلك باید کورنۍ پیسې پر بهرنیانو باندې د پور اسنادو او یا مالونو د خرڅولو له لارې تر لاسه کړي او مرکزي بانك هم په خپل وار اضافي بهرني اسعار د اقتصاد له جریان څخه کم کړي، یانې پېرودنې وکړي او په بدل کې یې کورنۍ پیسې جریان ته داخلې کړي، چې د همدې پورتنیو لارو په مرسته کېدای شي د تادیاتو د بیلانس تعادل وساتل شي.

## د بشري حقونو کمېسیون: لا هم په افغانستان کې بشري حقونه تر پښو لاندې کېږي

د بشري حقونو خپلواک کمېسیون ویلي، په افغانستان کې لا هم بشري حقونه تر پښو لاندې کېږي.

دغه کمېسیون ویلي، هغه اقدامات چې په دغه هېواد کې د بشري حقونو د وضعیت ښه کولو لپاره شوي، د قناعت وړ نه دي.

د دغه کمېسیون کمېشنر او ویاند شکرالله مشکور له ناامنۍ نیولې تر اداري فساد پورې په هېواد کې شته ټول ګواښونه د بشري حقونو د سرغړونې اساسي عوامل بللي دي.

هغه په دې تړاو ازادي راډیو ته ویلي: «سره له دې چې د تېرو کلونو په پرتله د بشري حقونو په وضعیت کې پرمختګونه شوي او ښه یې ارزوم، ځکه د بشري حقونو په برخه کې خلکو ته پوهاوی ورکړل شوی، ځینې مهم قوانین د بشري حقونو په ملاتړ تصویب شوي او بشري حقونه د یوې ملي موضوع په توګه زموږ په ټولنه کې مطرح شوي دي، خو په ټوله کې په افغانستان کې د بشري حقونو سرغړونې شته، جګړې، تاوتریخوالی، بېوزلي، فساد، قاچاق او د قانون د حاکمیت کمزورتیا د بشري حقونو سرغړونو ته زمینه برابروي».

هغه د بشري حقونو د سرغړونو په اړه دقیق ارقام نه دي ورکړي. دا په داسې حال کې ده چې تېره ورځ د ډسمبر لسمه د بشري حقونو له نړیوالې ورځې سره برابره وه.

په ورته وخت کې د بشري حقونو پخوانۍ کمېشنرې ثریا صبحرنګ هم په افغانستان کې د بشري حقونو وضعیت د اندېښنې وړ بللی دی. د هغې په خبره، ښځې او ماشومان د جګړې اصلي قربانیان دي.

نوموړې زیاته کړې: «له سزا څخه د معافیت فرهنګ په بېلابېلو ډولونو دوام لري، هغه کسان چې ځواکمن دي او غیر مسوول وسله وال لري، انتقامونه اخلي، ترور او وژنې کوي، کله چې جګړه وي، غیر مسوول وسله وال هم فعالیت کوي، موږ نشو ویلی چې زموږ د بشري حقونو وضعیت ښه دی، دا وضعیت د اندېښنې وړ دی».

خو مېرمن صبحرنګ ویلي چې د بشري حقونو د وضعیت د ښه کولو لپاره اقدامات شوي دي.

هغې د بېلګې په توګه د ملګرو ملتونو د بشري حقونو په شورا کې د افغانستان غړیتوب، د ځورونې د مخنیوي قانون تصویب او هم د ماشومانو د بشري حقونو د ملاتړ قانون تصویبولو ته اشاره کړې ده.

دغه قانون چې ورمه ورځ ولسي جرګې تصویب کړ، په یوه ماده کې یې راغلي: «ماشوم هغه چا ته ویل کېږي چې اتلس کلن شوی نه وي».

دا په داسې حال کې ده چې په ولسي جرګه کې له څو کلونو راهیسې پر دې مادې اختلاف و.

ځینو وکیلانو داسې فکر کاوه چې ماشوم هغه کس ته ویل کېږي چې د بلوغ علایم پکې ښکاره شي، خو ځینو نورو ویل چې ۱۸ کلنې د ماشومانو د خوندیتوب لپاره په پام کې نیول شوې ده.

په ورته وخت کې د ولسمشر مانۍ ویاند صدیق صدیقي هم پر خپله ټویټرپاڼه لیکلي: «د افغانستان حکومت د ماشومانو پر وړاندې د تاوتریخوالي د کمولو په برخه کې د ولسي جرګې دا اقدام اغېزمن بولي او د حکومت د اجرایي ادارو له خوا د دې قانون پلي کولو ته ژمن دی».

## لینډسي ګراهام: د افغان سولې لپاره دې د طالبانو پر ځای له پاکستان سره خبرې وشي

مخکښ امریکایي سناتور لینډسي ګراهام ویلي، امریکا دې په افغانستان کې د سولې لپاره د طالبانو پر ځای له پاکستان سره خبرې وکړي.

نوموړي له فاکس نیوز سره په تازه خبرو کې ویلي چې د افغان جګړې اصلي جرړې په پاکستان کې دي. د ده په خبره، په پاکستان کې لاهم د طالبانو امن مرکزونه او پټنځایونه موجود دي چې له دغه ځایه په افغانستان کې جګړه رهبري کوي.

د ده په خبره، که امریکا په افغانستان کې سوله غواړي، نو لومړی دې د طالبانو پر ځای له پاکستان سره خبرې وکړي. هغه زیاته کړې چې که پاکستان د طالبانو مرکزونه او روزنځایونه له منځه یوسي، نو په څو اونیو کې طالبان په افغانستان کې له منځه ځي. ګراهام ټینګار کړی چې پاکستان د طالبانو ملاتړی دی او باید دغه هېواد د یادې ډلې له ملاتړ او تجهیزه را وګرځول شي.

ګراهام ویلي چې دی غواړي له پاکستان سره د ازادې سوداګرۍ د یوه تړون له لارې چې هغه په امنیتي برخه کې د دغه هېواد له فعالیت سره تړلی وي، دغه هېواد د خپل چلند بدلولو ته راوګرځوي.

د افغان سولې په تړاو دغه څرګندونې داسې مهال دي چې د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ په سپټمبر میاشت کې په کابل کې د طالبانو تر یوه ځانمرګي برید وروسته، چې د یوه امریکایي په ګډون دوولس کسان پکې ووژل شول، له طالبانو سره د سولې خبرې لغوه اعلان کړې.

خو د نومبر په ۲۹مه ټرمپ په بګرام هوایي اډه کې د خبرو پر مهال وویل چې له طالبانو سره بېرته خبرې پیلوي، ځکه فکر کوي طالبان اوربند غواړي. دا خبرې د دواړو لوریو تر منځ د ډسمبر په اوومه بېرته پیل شوې او لا هم روانې دي.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۸,۵۵ |
| € | ۸٦,۷۰ |
| Rp. | ۵۰۱ |
| ₹ | ۱۱۰۰ |
| ¥ | ۱۱,۲۰ |
| £ | ۱۰۲,٦۰ |

### پروازونه



| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبۍ | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |



| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |



| | |
|---|---|
| کابل - دوبۍ | 08:50 |
| کابل - دوبۍ | 14:40 |
| کابل - دوبۍ | 18:15 |

### بیړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالۍ زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

مسير ورځپاڼه

**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**لیکوالان:** اېمل خان، نذیر احمد سهار
او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

# Maseer

New Vision, New Journey
Daily



## نن د ډسمبر ۱۱مه د غرونو له نړیوالې ورځې سره برابره ده!

غرونه د نړۍ د نړدې ۱۵ سلنه انسانانو او ۵۰ سلنه حیواناتو د استوګنې کورونه دي. غرونه د هر ژوي لپاره پاکې او تازه اوبه برابروي.

چهارشنبه د ۱۳۹۸ د لیندۍ ۲۰مه | د ۲۰۱۹ د ډسمبر ۱۱مه | ٤٧۸یمه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۰ | ۱۵ | ۱۸ | ۱٤ | ۱۹ | ۱۵ |
| ۱ | ۵ | ٦ | ۵ | ۹ | ٦ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۲۰ | لمر ختل ۰٦:٤۸ | ماسپښین ۱۱:٤۷ | مازیګر ۰۲:۲۵ | ماښام ۰٤:٤٤ | ماخوستن ۰٦:۱۳

## نړۍ



## راپورونه: په قزاقستان کې د سوریې د کورنۍ جګړې د دایمي هوارۍ پر لارو چارو بحث کېږي

۳

## جاپان: تیار یو چې د ایران او امریکا تر منځ د اټومي تړون د کړکېچ په هوارۍ کې مرسته وکړو



د جاپان لومړي وزیر ویلي، د ایران ولسمشر ته خپل هېواد ته د ورتلو بلنه ورکوي، څو د ایران د اټومي پروګرام پر سر د تهران او واشنګټن تر منځ د کړکېچ له هوارۍ سره مرسته وکړي.

د جاپان لومړي وزیر شینزو ابې دغه راز ویلي، هېواد یې د ایران د ولسمشر حسن روحاني کتنې ته تیارۍ نیسي، ځکه چې په خبره یې، غواړي د هغې اټومي لانجې په هوارۍ کې پراخ رول ولوبوي چې د تهران او واشنګټن تر منځ را ولاړه شوې ده.

ابې چې په توکیو کې په یوه خبري کنفرانس کې خبرې کولې، دغه راز ویلي چې هېواد یې غواړي چې په منځنۍ ختیځ کې د کړکېچ له کمولو سره هم مرسته وکړي.

هغه زیاته کړې: «له جاپانه د ایران د ولسمشر حسن روحاني پر کتنې خبرې رواني دي، نړیواله ټولنه له جاپانه چې له متحده ایالتونو سره شراکت لري او په عین حال کې هم له ایران سره له اوږدې مودې راهیسې ښې اړیکې لري، تمه کوي چې وضعیت ته رسیدګي وکړي».

د اسوشیټېډ پرېس خبري آژانس د راپور له مخې، جاپان چې د تېلو په برخه کې په سلو کې اتیا د ایران پر تېلو متکي دی، د دغه هېواد لومړی وزیر په تېره جون میاشت کې هم ایران ته تللی و، څو ایران او متحده ایالتونه دواړه دې ته وهڅوي چې د کړکېچ د کمولو لپاره په خپلو کې خبرې وکړي، خو دغو هڅو یې نتیجه ور نه کړه.

شینزو ابې که څه هم جاپان ته د ولسمشر روحاني د ورتلو په اړه نور جزیات نه دي ورکړي، خو د دغه هېواد رسنیو ویلي چې دغه سفر د رواني میاشتې په وروستیو کې تنظیم شوی دی.

## راپورونه: په چک جمهوریت کې یوه بریدګر په ډزو کې نهو کسانو ته مرګ ژوبله اړولې

د چک جمهوریت د اوستراوا ښار په یوه روغتون کې یوه بریدګر شپږ کسان په ډزو وژلي او وروسته یې ځان هم وژلی دی.

د دغه هېواد لومړي وزیر اندرې ببیش د چک دولتي تلوېزیون ته ویلي چې دا یوه داسې غمیزه ده چې هېڅ وربانديي نه پوهېږي.

هغه ویلي چې بریدګر تېره ورځ وختي پر دغو کسانو په یوه انتظار خونه کې ډزې کړې دي.

په ورته وخت کې د دغه هېواد پولیسو ویلي، چې دوی د مشکوک کس موټر موند او کله چې نږدې ورغلل، بریدکوونکي ځان هم په ډزو وواژه. د پولیسو په خبره، دغه



بریدکوونکی ٤۲ کلن و.

بلخوا د یاد روغتون مشر جیري هاورلانټ د دغه هېواد دولتي ټلوېزیون ته ویلي، بریدګر له خبرداري پرته ناڅاپه ډزې پیل کړې او نهه کسان یې وویشتل.

د نوموړي په خبره، په دغه برید کې څلور سړي او دوې ښځې وژل شوې او درې نور کسان سخت ټپیان شوي دي.

په ورته وخت کې د بریدګر دفتري همکارانو ویلي، دغه سړی انجنیر و او له پېښې مخکې یې د ناروغۍ له کبله رخصت اخیستی و او په همدغه روغتون کې یې درملنه کېده.

د یادونې ده چې دا له ۲۰۱۵ ز کال راهیسې په چک جمهوریت کې تر ټولو خونړی برید بلل کېږي. تر دې وړاندې په ۲۰۱۵ ز کال کې یوه سړي وروسته له هغه ځان وواژه چې اته کسان یې په ډزو ووژل.

## ظریف: افغان‌ها باید یکجا دربارهٔ آیندهٔ شان تصمیم بگیرند



جواد ظریف، وزیر خارجه ایران در حاشیهٔ هشتمین نشست قلب آسیا روند استانبول گفته است که تمام افغان ها باید یکجا شوند و بدون دخالت خارجی، دربارهٔ آیندهٔ کشور شان تصمیم بگیرند.

او در گفتگو با خبرگزاری انادولهٔ ترکیه، گفته است که بحران در این کشور هنگامی پایان خواهد یافت تا تمام افغان ها به شمول طالبان و حکومت افغانستان، بدون دخالت خارجی، تصمیم بگیرند.

او افزوده است: «ما نباید نظر خود را تحمیل کنیم، و البته که مردم بیرون از منطقه ما نیز نباید این کار را بکنند».

در همین حال، ریاست جمهوری در یک خبرنامه گفته است که رئیس جمهور غنی در حاشیهٔ این نشست با آقای ظریف دیدار کرده و هر دو جانب دربارهٔ گُسترش روابط و همکاری های اقتصادی میان دو کشور، بحث و گفتگو کردند.

خبرنامه می افزاید که آقای ظریف در این دیدار گفته است: «ما به این باور هستیم که باید دولت افغانستان محور مذاکرات آینده باشد و ما به حفاظت از تمام دست آوردهای افغانستان تأکید می‌کنیم و می خواهیم که در افغانستان، جنگ پایان یابد و صلح تأمین گردد».

از سوی هم، آقای غنی گفته است که صلح اولویت مهم حکومت افغانستان و خواست اساسی افغان‌هاست، اما اساس باید این باشد که آتش بس برقرار گردد و مشکل پناهگاه های طالبان در بیرون از افغانستان حل گردد.

او افزوده است که در کار مبارزه با مواد مخدر و مشکلات منطقه‌یی، همکاری مشترک حتمی است.

آقای غنی امنیت و ثبات افغانستان را به شمول امنیت ایران برای امنیت و ثبات منطقه و جهان مهم خواند و تأکید کرده است: «ما باید بر ضد گروه های تروریستی که در افغانستان فعالیت دارند، مبارزه نماییم».

## ژوند


## سړه هوا او د خرما ګټې



خرما ډېرې ګټې لري او یوه ارزښتناکه میوه ده. د دې تر څنګ پوره خواړه او ګټور درمل هم بلل کېږي. خرما د شحمیاتو، کلسیمو، سلفرو، اوسپنې، پوتاشیمو، فاسفورسو، مګنیزیمو، مسو او داسې نورو معدني موادو غني سرچینه ده. دا ټول مواد د انسان لپاره خورا ګټور دي. روغتیاپالان وایي چې د ورځې یوه خرما خوړل د ښې روغتیا ضمانت کوي. په عمومي ډول خرما د قبض لپاره ګټوره ده، د کلمو غیرمنظم حرکت تنظیموي، د زړه ستونزې او جنسي کمزوري له منځه وړي او د کولمو د سرطان مخه نیسي. خرماد(B-Complex) ویټامینونو په درلودلوسره دوینې سره او سپین کُرویات جوړوي. اوسپنه او مګنیزیم د امیندوارو مېرمنو لپاره ګټور دي. د خرما بله ستره ګټه بدن ته دا ده چې د انسان غړو ته ډېره ښه وده ورکوي. د روغتیاپالانو د نسخې مطابق، خرما په بېلابېلو ډولونو خوړل کېږي؛ خرما له شیدو سره، په ډوډۍ کې او داسې نور ډولونه یې. په اوسني ساینس کې خرما ته د قبض ضد خوراک (Laxative Food) وایي؛ له همدې کبله هغه کسان چې قبض لري، ډاکټران ورته سپارښتنه کوي چې خرما وخوري. کله چې خرما پخه شي، نو د پوتاشیمو کچه یکې زیاتېږي چې دا له ښه هضم سره مرسته کوي.

## هڅه او تمرین مو بریا ته رسوي

له تمرین پرته بریا ناشونې ده. محسوسې پایلې له تمرین پرته نه شي تر لاسه کېدای. په ژوند کې غوره پایلې په تمرین، تمرکز او سختو قربانیو تر لاسه کېږي. نړیوالو سټنډرډونو ته د رسېدو لپاره اړینه ده چې هره ورځ سخت تمرین وکړو. په شوق، علاقه او ستړیا نه منلو سره تمرین ډېر مهم دی. دا خبره چې پر یوه غوره مشر او رهبر د بدلېدو لپاره یوازې هیله‌مندۍ او یو ښه انسان کېدو ته اړتیا ده، هسې بېځایه خیالات او د وخت ضایع کول دي. ورځني کوچني پرمختګونه د وخت په تېرېدو د لویو لاسته راوړنو او غوره پایلو سبب ګرځي. ورزش کوونکي د تمرین او مشران خپل مسلک او کسب ته په ارزښت ورکولو سره پرمختګ کولای شي. په حقیقت کې دا کسان له ډېرو ستونزو تېرولو وروسته یوه ځای ته رسېدای شي او خلک پر ځان



راټولولای شي. دوی د خپلې بریا لور ته په ګام اېښودلو او له ډېر تمرین وروسته بریا ته رسېږي. پرمختګ ناڅاپي نه وي، د ژوند لویې بریاوې په تمرین، تمرکز او قرباني ورکولو سره ځان را بر سېره کوي.